مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۲۰۲۲ / ۰۱ / ۱۲

# جمهوریت او د ځواکونو انډول

په ټولنیزو هڅو او هلو ځلو کې د خپل او مخالف لوري د ځواکونو انډول غوڅ رول لري. بلخوا دا انډول د تل لپاره ثابت او په يوه حال نه وي، بلکې هر وخت او هره شيبه تغيير خوري. د ځواکونو د انډول پوهنه د بريا، ولاړ حالت او يا ماتي برخليک ټاکي. طبيعي ده چې نور لاملونه هم د انډول په برخليک کې اغيزمن دي او پوهه پرې پکار ده. يو ډېر شمېر افغانان جمهوريت يوازې د ولسمشر اشرف غني د نوم سره تړلی ګڼي او د هغه د شخصي مال تر بريده يې تصور کوي. د دوی په اند ولسمشر غني يعني جمهوريت او جمهوريت يعني اشرف غني. دوی ټولټاکني هم د ولسمشر غني شخصي پروژه بلله او ديموکراسی يې هم يوازې د اشرف غني شخصي هيله او غوښتنه ګڼله!

**په پای کې دوی ولسمشر او جمهورپال، د جمهوريت او ديموکراسی په لار کې يوازې پرېښودل او د جمهوريت او ديموکراسی د نه ملاتړ، تخريب او ماتي خپله ملامتيا يې هم د ولسمشر او جمهوريتپالو پر اوږو ورواچوله! همدی ته د تاريخ شيادي وايي!**

دا ډول افغانان فکر کوي چې که يوازې دری تنه ولسمشر غني، د ملي امنيت سلاکار حمد الله محب او د چارو اداري لوی رييس فضل محمود فضلي له هېواده نه وای وتلي او کابل کې پاتي وای، جمهوريت نه نړېده او طالبان به د کابل او ارګ په اره، امريکا سره شوي تفاهم ته ژمن پاتي شوی وای، هغه چې له کابل پرته په نورو ۳۳ ولايتونو کې ورته ژمن نه وو پاتي شوي. د دې افغانانو په اند، داسي اداره به رامنځته شوي وای چې هم به د جمهوريت ځواکونه او هم به د طالب ځواکونه پکي راټول وای.

طالبانو هم د دې کورنيو او بهرنيو خواخوږو د داسي واهياتو په درک سره ژبه نرمه کړه او خپله پوځي کودتا يې د واک د خيالي شراکت تر پردي لاندي پټه کړه.

دا افغانان فکر کوي، يادو درې شخصيتونو؛ له کابله پخپل وتون سره بويه د نورو ولايتونو په پرتله د کابل په اړه، د طالبانو جلا پريکړه چې کابل به د داسي اداري تر جوړېدو پورې نه نيسي او جمهوريت سره به د واک ويش ته ژمن پاتيږي؛ سبوتاژ کړه. ټول جمهوري نظام په درې تنو درول، هغه دوديز او پر عقيدې ولاړ تصور ته ورته پاتي کيږي چې انګيرې، ځمکه د غوايي پر ښکر ولاړه ده!

خو حقيقت بل څه دی. له جمهوريت څخه طالبي امارت ته د واک ليږد يوازې د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ مه تر سره نه شو، بلکې د ليږد بهير لږ تر لږه درې کلونه ونيول. په يادو درې کلونو کې يوخوا د ولسمشر غني پر محور د جمهوريت ځواکونو او بلخوا د طالبي امارت د وسلوالو ښکاره او پټو ځواکونو ترمنځ د تودې او تبليغاتي جګړې وراخوا په ټولنه کې د بې توپيره او وختپالو ځواکونو څېڅپانده او ناوړه دريځ هم د طالب په ګټه تمام شو. دلته د دغه وختپالو څخه يو تن چې شاعر او ليکوال هم دی بېلګه راوړم. ولسمشر غني دا شخص د کلتور وزير وټاکه، هغه ډېر ژر له دندې وتښتيد اوبيا يې په يوه لنډه مقاله کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت پرځای، بولس ځلې د کابل اداره ليکله او کاروله، چې وښی جمهوريت نشته او ديموکراسي هم د اشرف غني خوښي ډرامه ده! په داسي حال کې چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت پرځای، د کابل اداره هغه مهال پاکستاني رسنيو زياته کاروله او له پاکستاني رسنيو نورو رسنيو ته څښېدلې وه.

د دې کلونو په شخړه کې جمهوريت پال تر طالبي، جهادي مافيا او وختپالو څخه په بالقوه او هم په بالفعل لحاظ په وارو وارو کمزوری ول. ښه بېلګه يې د ۲۰۱۹ کال ټولټاکني ښودلای شو. دې ټاکنو کې هغه کسانو چې په ظاهره يې د جمهوريت او ديموکراسی اکتونه هم کول؛ لکه عبدالله، حامد کرزي او حواريون يې، لومړی د ټاکنو سره مخالفت وکړ او کله يې چې د ټولټاکنو مخه ونه شوه نيولای، بيا يې په بېلا بېلو پلمو او توطيو هغه پيکه کړې، تر دې چې په ټاکنو کې ډېرو لږو کسانو برخه واخيسته. که څه هم د ټاکنو په مټ جمهوريت وژغورل شو، خو واک يې بشپړ نه وو او د طالب لخوا د رواني جګړې، حکومت کې د پنځم ستون، جهادي مافيا او بهرنيو توطيو په وړاندې غښتلی نه وو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

همدارنګه که لومړی په اسلام اباد کې د افغان پلاوي او طالبانو او وروسته د قطر په دوحا کې د طالب او امریکا ترمنځ د سولې خبرو بهیر ته وګورو؛ یوخوا د جمهوریتپالو او بلخوا د حکومت په غیږ کې د جمهوریت د مخالفینو او منافقینو او هم جمهوریت سره د طالب او امریکا د دښمن دریځ ترمنځ لوی واټن وینو چې دلته هم د دواړو لورو د څواکونو انډول د جمهوریت په ګټه نه دی.
په مدني ټولنو او رسنیو کې هم د جمهویت او دیموکراسۍ غوښتنې او اندیښنې بنسټیزې شوې نه وي او د کار پیل وو. دلته هم کورنیو او بهرنیو دښمنو کړیو ته په وخت او اغیزمنه توګه ځواب نه شو لېدای.
د منتقدینو په سر سر کې په کور دننه؛ دولتي لوړپوړې چارواکي لکه دفاع وزیر بسم الله محمدي، د امنیت، کورنیو چارو لوړپوړي منسوبین، د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح، د حکومت او دولت د نیمای واک غاصب عبدالله او حواریون، پخواني ولسمشرحامد کرزی او ډله یې، جهادي ډلو مشران، مشهور جنګسالاران او په بهر کې له اسلام اباد نیولې تر امریکا او ماسکو پورې استخباراتي کړۍ، ټول په یوه خوله شریک ول.
په دې ناانډوله شخړه کې ولسمشر غني او جمهوریپالو پوره او بشپړ مقاومت وکړ او په دې مقاومت کې غټه نیمګړتیا نه لېدل کیږي. خو د زړو ځواکونو په ګټه انډول، جمهوریت او د خامې دیموکراسۍ ریښې د یوه وخت لپاره بیا له بیخه وایستلې.
جمهوریت او دیموکراسي یوازې د ولسمشرغني، محب او فضلي نه وه او دوی یوازې ماتې نه ده خوړلې، بلکې جمهوریت او دیموکراسۍ د یوه وخت لپاره ماتې وخوړه. په دې تاریخي شخړه کې یوازې طالب نه، بلکې د طالب سره یوځای جهادي مافیا او د هغې بهرني او کورنۍ ملاتړي، د یوه وخت لپاره بریالی شول.
باید هیره نه کړو، دلته جګړه د پرمختک او شاتګ ترمنځ وه او ده. د تنور او تور تم ترمنځ شخړه ده، د هېواد د ابادۍ او د افغانانو د سوکالۍ لپاره سیالي او مقابله ده. د ملا هیبت الله او ولسمشر غني تر منځ  شخصي دښمني نه ده، بلکې د زړې ماضي او راتلونکي تر منځ جګړه ده. د خپلواک او متمدن افغانستان او د پنجاب د غلام او د عربستان د اوښانو د پیر افغانستان پر سر اختلاف دی!
جمهوریپال او د دیموکراسۍ پلویان باید د خپلو تېروتنو زده کړه وکړي، مبارزه پایته نه ده رسېدلې، ادامه لري او نوې پړاو ته داخلیږي!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ